اې خلکو، په دين کې له افراطيت څخه ځان وساتئ، په حقيقت کې ستاسو څخه مخکې خلک په دين کې د افراطيت له امله هلاک شوي دي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايې چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم د عقبه جمرې (لويې جمرې) په سهار په داسې حال کې چې په اوښ سپور و وفرمايل: «ماته تيرې/ګيټې راټولې کړه» نو ما ورته اووه کانې/ګيټې راټول کړل، نو هغه په ورغوو کې ومروړل او ويې ويل: «د دې په څېر، په کانو وېشتل وکړئ ." بيا يې وفرمايل: «د دې په شان کانو باندې ئې و وولئ» بيا ئې وفرمايل: «اې خلکو، په دين کې له افراطيت څخه ځان وساتئ، په حقيقت کې ستاسو څخه مخکې خلک په دين کې د افراطيت له امله هلاک شوي دي.»

[صحيح دی] [ابن ماجه، النسائي او احمد روايت کړی دی]

ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په حجة الوداع کې د قربانۍ په ورځ د جمرة العقبې د ويشتلو په سهار و. نو امر يې ورته وکړ چې کنکرې/ګيټې ورته راټولې کړي، نو هغه ورته اووه کنکرې راټولې کړې چې حجم يې د نخود يا چنې په اندازه و، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په لاس کې ونيولې بيا يې وښوځولې او ويې ويل: د دې په اندازه (ګيټو) ويشتل وکړئ، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم له افراطيت، تشدد او په ديني چارو کې له حد څخه د اوړېدلو په اړه خبرداری ورکړ (او ويې ويل:) پخواني امتونه په دين کې له حد څخه په تجاوز، افراطيت او تشدد له امله تباه شوي دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3395